# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانیستي داوطلبي

**پروژه: د معلوماتی ټکنالوژۍ لوی آمریت او FIU د ضرورت په اساس د کنټرول یونټ، آویا تلیفون ، استوریج درایف او د سرور د ستګاه رم چمتو او تدارک کول**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمیره: DAB/1400-1/NCB/G05**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400-1/NCB/G05** داخلي پرانیستي داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحویلي د جدول مطابق** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستي میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستي ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (abdulhayee.saeed@dab.gov.af) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د ماسپښین له {02:00} بجو مخکې 1401/01/08 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی

**۸. د آفر د تضمین مبلغ 28,200/ اته ویشت زره او دوه سوه افغانۍ**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعني د آفر د سپارلو د نېټې 1401/01/08 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په

هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین یانقدی ) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.

2- : *مطابق به حکم نمبر5 طرزالعمل تدارکات و ماده هشتم قانون تدارکات معیار تجربه کاری مشابه برای امور اجناس متذکره لازم نمیباشد.*

3- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي.. *مطابق به حکم نمبر5 طرزالعمل تدارکات و ماده هشتم قانون تدارکات معیار تجربه کاری مشابه برای امور اجناس متذکره لازم نمیباشد*

4- د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې ټولیز ارزښت: **352,500**/دری سوه او دوه پنځوس زره او پنځه سوه افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمی د وروستی نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af